SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اووني کي دوه ځله خپريږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

پنځم کال اته څلویښتمه گڼه پرله پسې (۳۳۵) سه شنبه د ۱۴۲۱ هـ ق کال د ربیع الثاني (۹) د ۱۳۷۹ هـ ش کال د چنگاښ دمیاشتي (۲۱) د ۲۰۰۰ میلادي کال د جولای (۱۱)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې !، همدا (عدل) دیر نږدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته . (سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

در اعلامیه وزارت امور خارجه ا.ا.ا :

مخالفین با انجام اعمال تروریستي از موازین بین المللي تخطي میورزند

وزارت امور خارجه ا.ا.ا طي اعلامیه انفجار در سفارت جمهوري اسلامي پاکستان در کابل را یك عمل تروریستي مخالفین خوانده و آنرا تخطي آشکار از موازین بین المللي دانسته است.

در اعلامیه وزارت امور خارجه که دیروز بهمین منظور صادر گردیده است آمده است : بعد از تجاوز شوروي سابق خداوند متعال کشور همسایه پاکستان را خانه مهاجرت افغانها گردانید و مساعدتهاي که با مهاجرین افغان صورت گرفته مثال آنرا میتوان در مهمان نوازي انصار مدینه منوره از صدر اسلام در یابیم.

در اعلامیه آمده است دشمنان ملت افغان از ابتدا تلاش ورزیده اند تا فاصله را در روابط میان افغانان مؤمن و کشور میزبان دوران جهاد بوجود آورند و در این راه همیشه از فعالیت هاي کریه تروریستي استفاده نموده و همین بود که خلاف تمام اصول بین المللي بخصوص خلاف کنوانسیون هاي ویانا سفارت کشور پاکستان را حریق نموده و تمام مصئونیت هاي روشن دیپلوماتان را زیر پا نمودند و اکنون یك بار دیگر با انفجار در سفارت جمهوري اسلامي پاکستان در کابل اعمال جانبنبار شانرا تکرار کردند تا با استفاده از این شیوه بتوانند ص ٤

از افکار سازنده مرحوم علامه غوري قدرداني بعمل آمد

از افکار سازنده فعالیت هاي سودمند و بر خورد نیك مرحوم علامه غوري دیروز طي اجتماع که از سوي شخصیت هاي علمي، جهادي و فرهنگي ولایت غور ترتیب یافته بود قدرداني بعمل آمد.

طبق یك خبر دیگر : علما، روحانیون ، بزرگان و اهالي متدین ولسوالي تیوره ولایت غور دیروز طي اجتماع بزرگ اعمال مخالفین را تقبیح نموده بر تحقق اهداف صلح جویانه امارت اسلامي ابراز آماده گي نمودند.

در آغاز این جلسه محترم مولوي نور احمد مظهري کفیل محکمه غور و محترم مولوي عبدالرحیم فکور رئیس شوراي علماي آنولایت به ص ٤

په کابل کی د چاودنی په اړه د افغانستان د اسلامی امارت ویاند محترم ملا عبدالحی مطمئن وویل :

ملگری ملتونه هیڅکله د مخالفینو اعمالو ته گوته نه نیسي

هغوی ډیر تروریستي اعمال زمونږ په ساحه کي ترسره کړي دي

زمونږ د دادمن امنیت له کبله ددې ډول تروریستي اعمالو اغیزې ډیرې کمې دي

دا ډول پیښي چي هیڅ ډول مالي او ځاني زیان ونه لري او بوازې د چاودني اواز واوریدل شي زما په عقیده نه په مطبوعاتو کي اهمیت لري او نه زمونږ د ښار امنیت ته ضربه ورکولی شي، دا په خپله ددې ښکارندویي کوي چي دښمن تل په دې هڅه کي دی چي مالي او ځاني زیان واړوي خو تر اوسه بریالی شوی نه دی دا زمونږ لپاره یوه امنیتي بریاده او د مخالفینو بوازني هڅه دا ده چي بهرنیو دیپلوماتانو ته امنیتي وضع خرابه وښیي خو دوی په دې اقدام کي هم ناکامه شویدي.

مورد پاکستان په سفارت کي په دا ډول پیښه باندي خواشیني څرگندوو او هغو ته د لا امنیت داډ ورکوو .

محترم ملا عبدالحی مطمئن زیاته کړه : زما په عقیده دا پیښه نه ده . بږخوک چي بوی پیښی ته اقدام کوي او په اخر کي دومره ناکامه کیږي چي نه پري ابادي نړیږي او نه څوک وربانديي ټپي کیږي بوازي د چاودني بو عادي اواز اوریدل په امنیتي لحاظ په دومره لوی ښار کي هیڅ اهمیت نه لري . دا د دښمن مکروه هڅه ده او غواړي دا تېنگ امنیت چي طالبانو او د افغانستان اسلامي امارت رامنځته کړي دا غداره کړي هغوی په دې لاره کي ناکامه دي، تاسي پوهیږي چي مور له بوده بر سخت دښمن سره چي هغه بوازي په افغانستان کي نه بلکي په نوره نړی ... د سوډ لري مخامخ یو . روسان چي ... زمونږ دښمنان بلل کیږي د محځ غینو بر شا ولاړ دي او د ډول ډول وسایل بې په واک کي ورکړیدي نو په داسي لویه دښمني او لویه معرکه کي د مخالفینو دا ډول هڅي د تعجب ور نه بلکي د هغوی ناکامي د نیکمرغي خبره ده.

ده زیاته کړه : مونږ بیا بیا ویلي دي چي متاسفانه هغه عیبونه چي زمونږ مخالفین یي لري هغوی ته هیڅ وخت هم ملگرو ملتونو او نړیوالو یوالو گوته نه ده نیولي هغوی دغه راز تروریستي عملونه په تکرار سره زمونږ په ساحه کي رامنځته کړیدي او دا یقیناً یو تروریستي عمل دی خو الحمد لله څومره چي د تروریستي عمل اغیزی په نورو سیمو کي ښکاره دي زمونږ په سیمه کي یې د داډ من امنیت په برکت دومره اغیزي نه دي موجودي.

کار ترمیم و قیر ریزي سرك مدرسه مهري هرات پایان یافت

هرات - باختر :

کار ترمیم و قیر ریزي سرك مدرسه مهري ولایت هرات که چندي قبل آغاز شده بود پایان یافته و همچنان کار قیرریزي باغ اسلامي آنولایت آغاز گردید.

کار ترمیم و قیرریزي سرك مدرسه مهري آنولایت که توسط ریاست فواید عامه و شاروالي آنجا بطول دو کیلو متر از بودجه امارت اسلامي آغاز یافته بود ص ٤

محترم وزیر فواید عامه ا.ا.ا با وزیر مواصلات جمهوري پاکستان:

در مورد ترمیم شاهراه هاي مواصلاتي کشور صحبت نمود

کابل - باختر

محترم مولوي احمد الله مطیع وزیر فواید عامه دیروز در شهر اسلام آباد پاکستان با جنرال متقاعد محترم افتخار حسین شاه وزیر مواصلات جمهوري اسلامي پاکستان در مورد ترمیم و باز سازي شاهراه هاي مواصلات بحث و گفتگو نمودند.

محترم مولوي احمد الله مطیع وزیر فواید عامه که در این تازه گي ها در رأس یك ص ٤

د علومو د اکادمي د لرغون پوهني د علمي مرکز :

د دفاع د کمیسیون غونډه جوړه شوه

کابل - باختر

د افغانستان د اسلامي امارت د علومو اکادمي د لرغون پوهني د علمي مرکز د دفاع د کمیسیون غونډه پرون له غرمي مخکي جوړه شوه .

د دغه کمیسیون په غونډه ٤ مخ

اثرات سوء خشکسالی جاری به مرکز کشور امتداد یافت

شریعت : اثرات سوء خشکسالي روز تا روز بر پیکر مزارع و مواشي کشور تبارز یافته و شاخه هاي آن، گسترده تر میگردد؛ مگر گپ جالب و مهم اینست که از طي چندي بدینسو بکي ص ٤

شوراي عالي ستره محکمه تدویر یافت

کابل - باختر

دیروز شورایعالي ستره محکمه تحت ریاست محترم مولوي نور محمد «ثاقب» قاضي القضات و رئیس ستره محکمه امارت اسلامي افغانستان در مقر ستره محکمه دایر گردید.

ابتدا آیات چند از کلام الله مجید قرائت گردید بعداً محترم قاضي ص ٤

محترم سید مظفر الدین «هاشمي» مسؤول دفتر MCPA در کابل :

پروژه ماین پاکي افغانها در سطح جهان موفق ارزیابي شد

شریعت :طي ٤ ماه اول سال ۲۰۰۰ میلادي مجموعاً ۷۳۰۳۱ حلقه ماین و مواد منفجر نا شده توسط پروژه هاي ماین پاکي ملل متحد در داخل افغانستان از بین رفته است.

این مطلب را محترم سید مظفر الدین هاشمي مسؤول دفتر MCPA در ص ٤

د کلیو د بیا جوړوني په ریاست کي :

د ماشومانو د حقوقو روزنیز کورس جوړ شو

کابل - باختر :

د ماشومانو د حقوقو روزنیز کورس پرون له غرمي مخکي د کلیو د بیا جوړوني او پراختیا په لوی ریاست کي جوړ شو .

په هغې غونډه کي چي له همدې امله جوړه شوې وه د کلیو د بیا جوړوني او ٤ مخ

معاون شرکت ترانزیتي آسیا :

بعد از این مسافرین کابل بدون توقف به پشاور انتقال مي یابند

شریعت : شرکت ترانزیتي آسیا جدیداً در چوکات ریاست ترانسپورت ا.ا.ا ایجاد گردیده و مصمم است تا بعد از این هموطنان مسافر ما را بدون توقف از شهر کابل به شهر پشاور پاکستان انتقال بدهد.

این مطلب را محترم محمد صابر «لطیفي» معاون شرکت ترانزیتي آسیا به خبرنگار ما اظهار داشته افزود : ما درین زمینه موافقه دولت پاکستان و ریاست ترانسپورت ا.ا.ا را رسماً حاصل نموده ایم و قرار است فعالیت ما عنقریب آغاز گردد.

وي افزود : به منظور پیشبرد بهتر این پروسه ما در قدم ص ٤

د مکروریانو نود ځاگانو د بریښنا رسولو کار پیل شو

کابل - باختر :

د مکروریانو او د شاوخوا سیمو د نږدې دوه سوه پنځوس زرو تنو اوسیدونکو د ستونزو او مشکلاتو د لري کولو په مقصد د مکروریانو د لومړي، دویم، دریم او څلورم لسبر ځاگانو د بریښنا رسولو د سیستم د بیا جوړولو ٤ مخ

د قفقاز په ولادي ښار کي :

د یو بم په چاودنه کي شپږ تنه ووژل شول

د قفقاز د ولادي په ښار کي د بم په یوې چاودنه کي د قربانیانو شمیر زیاتوالي مونډلي دي. د روسیي د انترفاکس خبري آژانس د سیمه ییزو خبري منابعو له خولي وویل د هغه بم د چاودني په نتیجه کي چي د قفقاز د ولادي ښار په مرکزي بازار کي وچاودید شپږ کسه وژل شوي او پنځلس تنه نور ټپیان شوي دي.

دغه راز د روسیي د دین په ناحیه کي د یوې بلي چاودني له امله دوه تنه وژل شوي دي تر اوسه پوري د دغو چاودنو مسؤولیت چا په غاړه نه دی اخیستی.

د فلسطینیانو په ځورونی لاس پوری کړ

صهیونستی غاصبو ځواکونو

صهیونستي غاصبو ځواکونو د فلسطینیانو د ملکي خلکو د سیرلی په بو موټر باندي د صهیونستو پوځیانو د ډزو له امله د فلسطینیانو له خپلواکي اداری څخه یخبینه غوښتی ده .

دغه پیښه د غ... په ناوه کي شـ... وی ده چي ... ی امله یوه فلـ... لسطیني میرمن وژل شوي او څو تنه نور ټپیان شوی دی.

د عیني شاهدانو د څرگندونو له مخی د فلسطینیانو د ملکي خلکو د سیرلی په موټر باندی د اسرائیلی عسکرو ډزی په ناڅاپی ډول او د کومی اندیښني انگیزي له مشخص کیدو پرته شوی ٤ مخ

رژیم اسرائیل غاصب با بحران جدي مواجه گردیده است

در نتیجه کناره گیري سه حزب عمده از کابینه ائتلافي ایهود بارك صدراعظم رژیم غاصب اسرائیل با بحران روبرو گردیده است. کناره گیري احزاب مذکور سبب شده است تا چندین وزیر و نماینده احزاب مذکور در کابینه ائتلافي اسرائیل از وظایف خود استعفا دهند.

ریفرندم یا همه پرسي از مردم سوریه دیروز آغاز گردید

ریفرندم یا همه پرسي از مردم سوریه براي تعیین بشار الاسد بحیث رئیس جمهور سوریه دیروز آغاز گردید.

درین ریفرندم بشار الاسد یگانه کاندید احراز مقام ریاست جمهوري سوریه گزارش داده شده است . مقامات عالیرتبه نظامي و سیاسي سوریه زمینه را براي به قدرت رسیدن بشار الاسد فراهم کرده است . بشار الاسد فرزند حافظ الاسد فقید است که مدت سه سال بر کشور سوریه حکومت کرد.

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

ایډز - نړیوالو ته د لویدیځ تمدن ناولی سوغات!

تیره ورځ د جنوبي افریقي په دوربان ښار کي د ایډز د مخنیوي د لارو چارو څیړلو په هکله د یوه لوی نړی وال کنفرانس پرانسته وشوه چي یو زیات شمیر ډاکټرانو، سیاست پوهانو او څه په ایډز اخته کسانو برخه پکي اخیستي وه .

دا کنفرانس لکه څنگه چي په ډیره مهمه موضوع پوري اړه لري، ښایي څو ورځي دوام وکړي او د نړی د بیلا بیلو هیوادونو څیړونکي به د ایډز د خطرناکي ناروغي په ۲ مخ

شریعت

دتاسیس کال	: ۱۳۷٤ هـ ش
	: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر	: عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال	: غلام محمد فاروق
دیوې ګڼې بیه	: په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس	: (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ - توزیع او شکایات :٦٢٨٥٩
جاري حساب	: ٤-۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ	: امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

هکله خپلی نظریی څرګندی کړی د ملګرو ملتو اړوند مسؤولین وایی چی د ایډز سره د مبارزی لپاره شپږ ملیارده مارکو ته اړتیا ده او دا اندازه د افریقایی ملکونو په شان غریبو هیوادو ته ډیره زیاته ده چی له همدی کبله د کنفرانس له پیلیدو سره جوخت پراخه عوامی مظاهری راووتلی او د ایډز ناروغی په دارو درملنه کی بی د ارزانی غوښتنه کوله په دی هکله یوه څیړنه دا هم وایی چی ایډز په افریقا کی ډیر په چټکی سره خپریدونکی دی څکه چی د ارو درمل یی ډیر ګران او د نیستمنو وګړو له وسه وتلی خبره ده که څه هم د ایډز په هکله د څیړونکو کنفرانسونو دا لومړی ځل نه دی، بلکی پخوا هم په دی باره کی ډیری غونډی او څیړنی شوی دی أو د ټولو څیړنو نتیجه هماغه یوه خبره ده چی له حده وتلی اختلاط، فحشا او ناولتوب ددی کرغیړنی ناروغی اصلی عوامل دی نن سبا ایډز ګردی نړی ته یو لوی ګواښ دی او سره له دی چی هم یی د قربانیانو شمیر د مخدراتو او تروریزم په نسبت څو چنده زیات دی او هم په نړی کی زر زر خپریدونکی دی خو بیا هم غربی نړی ددی لپاره چی یو خو د دوی د نوی تمدن زیږنده ناروغی ده او بل څه سیاسی اهداف نه شی تری لاس ته راوړلای نو څکه په دی هکله دومره ناری سوری نه وهی او حقیقت دا دی چی اوس ګردی نړی ته په لومړی درجه ګواښ همدغه ایډز دی چی د غربی تهذیب او تمدن د غیر فطری بی محدودیته اختلاط او ناولی فحشا له کبله را پیدا شوی او بشریت یی د غټو ستونزو سره مخامخ کړی دی خو دا چی د نوموړی ناروغی اسباب څرګند او معلوم دی او په دی هکله روان کنفرانسونه یی هم د اصلی عواملو د له منځه وړو لپاره څه اقدامات نه کوی نو څکه ویلای شو چی دا ټولی غونډی او څیړنی بی بالکل بی ګټی او عبث دي؛نړی وال باید لږ تر لږه د خپل ځانی صحت په هکله د تعصب له ترورمیسو را ووځی، سیاسی مصلحتونه یوی خواته کړی او د بشریت د ژغورلو لپاره روښانه واقعیتونه ومنی، هغه چی په رښتینی ډول د انسان د نیکمرغی او سوکالی ضمانت کوی ښایی اسلامی پروګرام ته غاړه کیږدی، هغه چی لا ډیر پخوایی د اختلاط او فحشا په صورت کی د همدی ډول خطرناکو عواقبو خبر داری ورکړی دی مګر د افسوس خبره ده چی سره له دی تر خو واقعیتونو بیا هم لویدیځ وال او لویدیځ غوښتونکی لګیا دی سپیڅلی اسلامی ټولنی د یو دغسی ناولتوب په لور هڅوی کوم چی نه د جسمی روغتیا ضمانت کولای شی او نه د روحی آیا همدا غربی ټولنی نه دی چی د ایډز نه پرته په سلګونو روحی او نفسیاتی ناروغیو اخته دی ؟ او هره ورځ یی ډیر ډیر کسان خپل رنځونه په ځان وژنه پای ته رسوی او څینی نور بیا دخپل لالهانده ضمیر د آرامولو لپاره مخدراتو ته لاس اچوی او په لا بدتر مصیبت اخته کیږی .

موږ همدا حقایق نړی والو ته په ګوته کوو او هیله ورکوو چی راځی تعصبونه یوی خواته کړی او د ایډز په شان خطرناکی بلا نه د ځان او نړی ژغورلو لپاره سپیڅلی اسلامی هدایات د ژوندانه لارښود او تګلاره وګرځوی تر څو همیشه مو جسمی او روحی روغتیا موندلی او په خورا ډاډ او اطمینان سره ژوند وکړی په دی کی هیڅ شک نشته چی د ښځو او نارینه و ناروا اختلاط د څومره نفسیاتی ناروغیو لامل ګرځی او بر عکس له دغسی ناروا ګډون او بی ستری څخه د فرد او ټولنی ساتل د انسان د دماغی ، جسمی او روحی ډیرو ناروغیو او پریشانیو مخه نیسی او په نتیجه کی یوه هر اړخیزه سالمه ټولنه منځ ته راځی .

مهارت

چې نه مري لا به واوري

عبدالرحیم «ثاقب»

د امریکې د لاس انجلس ایالت د ښوونې او روزنې اداري ددې ایالت د مرکز د یوه ښوونځي دوه تنه ښځینه ښوونکې له خپلې وظیفې ګوښه کړلې.

دغه دوه تنه ښوونکې هره یوه ۲٥ کلنه کارین دیفریو او ۲٦ کلنه تریسي نیدرکیرک ددې ښوونځي تر ټولو ماهرې، تکړه او د ښوونې په چارو کی د پخې تجربې لرونکې ښوونکې پیژندل شوې دي.

دوی دواړو د خپلو مراهقو نارینه زده کوونکو په زړه کی ځانګړی ځای درلود د ښوونځي د زده کوونکو په وینا هغوی دواړه په تدریسي اسلوبو کی د یوه خاص مهارت درلودونکې وې.

له همدې امله د دوی دواړو په ګوښه کولو د ښوونځي ټولو زده کونکو په اعتصاب لاس پورې کړ اعتصاب لا څه چې په کلکه یې د اداري ددې پریکړې غندنه کوله دغه دوه تنه ښوونکې د غړیو د تشریح پوهنې اناتومي مسلکي استادانې وې د امریکې په مترقي ټولنه کی له څلورم ټولګي ور پورته د نورو مضامینو تر څنګ د غړیو د تشریح عمل هم په نصاب کی په رسمي توګه ځای په ځای شوی دی.

دغه مضمون له نورو اساسي مضامینو سره یو ځای په اساسي توګه تدریس او زده کوونکو ته پکې د انساني اعضاوو په تیره د جنسي غړیو د وظایفو او فعالیت او په هغو باندې اهتمام کول ورښودل کیږي.

په هر صورت خبره مو اصلاً د کارین او تریسي په ګوښه کیدو کوله د ښوونځي اداري څکه د هغوی د ګوښه کولو پریکړه وکړه چې هغوی به د خپل مسلکي مضمون د تدریس په مهال له ځانګړو اسلوبو څخه کار اخیست هغوی به د مضمون د تشریح کولو په وخت د صنفي لوحې تر څنګ خپل ځان په بشپړه توګه بربنډ او بیا به یې د زده کوونکو د ښه پوهولو لپاره په عملي توګه د جنسي اعضاوو په تشریح پیل کاوه هغوی دواړو دغه کار د خپل مسلکي مهارت او په خپلو دندو کی د اخلاص ښکاره کولو په خاطر تر سره کاږه.

هغوی به ویل: له کله نه چې موږ وپوهیدو چې زده کوونکي خپلو درسونو ته پوره توجه نه کوي او ددې مضمون د لوستلو په وخت کی ځان ډیر بې پروا ښیي نو درس ته مو د هغوی د توجه د راګرځولو په منظور له همدغه مسلکي میتود نه کار واخیست او ددې تجربې عملي نتیجه په بشپړه توګه په زده کوونکو ښه اغیزه وکړه او س د درس له پیل نه بیا تر پایه ټول په پوره توګه متوجه او حتی ډیر زده کوونکي ددغه درسي ماحول د تصویر لپاره له ځانونو سره تلویزیوني او عادي کامرې هم ټولګي ته راوړي او د درس تر پایه یې د کامرو عدسې د خپلو ماهرو ښوونکو په لوري ور اړولې وې!!!

خو د ښوونځي اداري بیا ور باندې څکه انتقاد درلود چې دوی دواړو دغه ادا کاري په تعلیمي چاپیریال کی د هالیوډ او نورو بربنډو فیلمونو جوړونکو شرکتونو په مالي در آمد باندې منفي اغیزه کوله څکه د دوی شاګردانو بیا د نوموړو کمپنیو له جوړ کړي شویو فیلمونو نه ګټه اخیسته او نه یې هم هغه رانیول دا د اری که بل هر څه ملحوظ و هغه به واو ماهرو ښوونکو یې پریکړه طوعاً او کرهاً ومنله خو زده کوونکو یې بر تلاف یوه کړي ورځ درسونه تحریم کړل.

بالاخره خبره په دې غوڅه شوه چې ددې ښوونکو له مسلکي مهارت نه د ګټې اخیستلو لپاره باید هغوی یو ځانګړی ښځینه زده کوونکي له خپل مهارت نه برخمنې کړي او نارینه زده کوونکي به د انساني غړیو د تشریح او تماشې غریزه د صنفي تفریح په منځ کی د پورتنیو کمپنیو د جوړ شویو فیلمونو په لیدو ماتی کړي.

د سرمقالی اهمیت او لیکنه

غلام سخی اثمر

سرمقاله د یوی ورځپاڼي او خپروني تر ټولو زیات اساسي مطلب دی سرمقاله په عمومي ډول د حورا مهمو موضوعاتو په هکله لیکله کیږي نو لدې جهته ډیره هڅه کیږي چې سرمقاله خورا په دقت سره ولیکله شي څکه چې د یوی خپروني ټولنیز موقف په ټولنه کی یا لوړوي او یا ورته زیان رسوي.

په سرمقاله کی همداسي چې د هغې موضوع مهمه وي د جملو او پاراګرافونو ترکیب هم باید داسي او بدل شوي وي چې انتزاعي او التقاطي مفاهیم ورنه وانه خیستل شي د ژبې د قواعدو په لحاظ په سرمقاله کی اشتباه او تیروتنه تقریباً نه بښونکی ده دا په دې مفهوم چې د سرمقالي په پای کی د چا نوم نه لیکل کیږي څکه چې د ورځپاڼي د ټولو کارکوونکو د پوهې او تفکر محصول دی نو دغه تیروتنه د ورځپاڼي د مسؤل مدیر، د لیک د هیئت، د شیبي او یا د ورځې د نوکریوال (د ګټې نوکریوال) راپورترانو ... او پدې ډول د ورځپاڼي د ټولو کار کوونکو موقف ته کلک منفي ګوزار دی او لدې نه هم مهم دا چې دغه کار د ورځپاڼي د لوړو مقاماتو موقف ته هم زیان رسوي کوم چې د ورځپاڼي د کارکوونکو څخه په لوړو مقاماتو کی کار کوي که ورځپاڼه شخصي وي مساله دومره پیچلې نده څکه د زیان اندازه محدوده وي او کیدای شي په بله ګڼه کی د غلطیو څخه یا معذرت وغوښتل شي او یا دې په راتلونکي ګڼه کی پر خپلو تیروتنو اهتمام وکړي او خپل زیان دې جبران کړي. که څه هم سرمقاله په کافي اندازه لارښوونې او د ساتیر وړاندې کوي خو نه ښایي دومره مفیده وي چې لوستونکي ته یو خاص وچ چوکاټ وړاندې کړي بلکې هغه ته باید د تفکر مجال ورکړ شي. که سرمقاله د یوې داسي مغلقې او پیچلې موضوع په باره کی وي چې د هغې په هکله په ټولنه کی تر یوه حده پورې متضاد افکار موجود وي نو په داسي حال کی سرمقاله هغه موضوع دومره په دقت څیړي چې لوستونکی خپله لاره پیدا کړي او پر موضوع باندې قضاوت وکړای شي.

د ورځپاڼي مسؤل مدیر او یا د لیک د هیئت کوم غړی چې تکړه لیکوال وي سرمقاله لیکي بیا د لیک هیئت چې ریاست یې مسؤل مدیر په غاړه لري سرمقاله په دقت سره لولي او بیا وروسته که له کومې پوښتنې سره مخامخ شي د هغه مقام سره موضوع مطرح کوي چې د ورځپاڼي د مراتبو په سلسله کی تر ټولو زیات مسؤلیت ور په غاړه وي او دغه مقام خاصتاً د زعامت د پروګرامو او پالیسو څخه پوره خبر وي او واضح ده چې ښه مشوره هم ورکولای شي.

د سرمقالي بل خصوصیت دا دی چې د یوی مهمي واقعي او موضوع په هکله بې له کوم ځنډ څخه لیکله کیږي حتی د یوی ورځي ځنډ د ورځپاڼي اعتبار ته کیدای شي زیان ورسوي ددې کار بله خوا دا ده چې امکان لري بله ورځپاڼه ددې مهمي موضوع په هکله سرمقاله ولیکي او پدې مشروع رقابت کی مخ ته لاړه شي.

که په سرمقاله کی د یو بل دولت او یا حکومت ټګ لاره او سیاست باندې انتقاد او نیوکه کیږي نو باید په هیڅ ډول تعرضي نه وي بلکې توضیحي او تحلیلي وي تر څو لوستونکي نوموړي ورځپاڼه له دولت او یا حکومت سره په دښمنۍ تو متهم نکړي واقعیتونه باید د سیاست په اړوند داسي وپیل شي چې لوستونکي پخپل قضاوت کی ملامته خوا پیدا کړي او دا هغه څه داده چې د سرمقالي هدف هم وي.

د ژورنالیزم په ټولو ژانرونو کی «جذباتي کیدل» د ورځپاڼي موقف ته زیان رسوي جذباتي کیدل امکان لري د ګټي پر ځای زیان ورسوي ان دا چې د یوه هیواد جاري مشي او سیاست ته ګوزار ورکړي.

د سرمقالي بل خصوصیت دا دی چې د یوی موضوع په هکله وي او په همدې محور څرخي: که یوه موضوع نه منې هم پیاوړي دلایل وړاندې کوي او که منې یې هم پیاوړي دلیلونه وړاندې کوي د سرمقالي لپاره معمولاً لنډ او په ګرامري لحاظ دقیق عنوان ټاکل کیږي (دا چې عنوان اوږد وي یا لنډ کوم قید نشته) خو لنډ عنوان له یوی خوا ژر لوستل کیږي او له بلې خوا د لوستونکي تلوسه متن ته زیاتوي. د سرمقالي مقدمه چې څومره لنډه خو پیاوړي وي په هغه اندازه ښه ده دغه مقدمه د لوستونکي لپاره د یوه داسي ور حیثیت پیدا کوي چې له هغې لاري د سرمقالي متن ته داخلیږي.

د سرمقالي د لیکونکي مسلکي پوهه او سیاسي لرلید د مضمون په متن او نتیجه ګیري څلیږي په نتیجه ګیري کی باید د سرمقالي هدف ډېر ښه بیان شي.

سرمقاله که د یوه بل دولت او حکومت د کارونو او سیاستونو په هکله وي نو د هغه هیواد ملت ته هڅکله خطاب نه کیږي بلکه په مشخصه توګه دولت یا حکومت باندې انتقاد کیږي د کلماتو او جملو تکرار سرمقاله ضعیفه او لوستونکي ذهناً ستړي کوي، پدې توګه یې یا هیڅ نه لولي او یا یې تر پایه نه لولي څکه نو د سرمقالي هدف نه تر سره کیږي.

په سرمقاله کی د اشخاصو له توصیف یا رټنې څخه ښه دا ده چې د هغوی په اعمالو پورې اړوند توضیحات ورکړل شي تر څو ورځپاڼه په دې تومستی نشي چې لوړ هدفونه نلري. په سرمقاله کی لارښوونه هم ضروري کار دی او باید داسي په مهارت او صداقت وړاندې شي چې پر عیني واقعیتونو بناوي تر څو لوستونکي یې ومني.

ورځپاڼه په زور ځان په لوستونکو نشي تحمیل کولای نو ښایي چې د لوستونکو سره صمیمي وي او د زړه له کومې ورسره خبرې وکړي «مهمې سرمقالې د یوه هیواد د سراسري او یا محلي راډیو د امواجو پواسطه د خلکو غوږونو ته رسول کیږي او پدې ډول راډیو له ورځپاڼې سره له یوې خوا مرسته کوي او له بلې خوا خپله نشراتي دنده سرته رسوي. سرمقاله د ژبې او ادبیاتو په لحاظ خورا ښایسته لیکله کیږي ګرامري اشتباه باید ونلري او که داسي کومه اشتباه را منځته شي نو په بله ګڼه کی باید د تصحیح او یا توضیح تر عنوان لاندې هغې اشتباه ته ګوته ونیوله شي او سمه بڼه یې وړاندې شي. لدې کبله چې سرمقاله د ورځپاڼې تر ټولو مهمه موضوع او یا اهمیته مطلب دی نو د زیاترو ورځپاڼو په لومړي مخ کی ځای ورکول کیږي که سرمقاله په لومړي مخ کی پیل شي د لومړي مخ له پورتنی برخې څخه شروع کیږي او ترجیحاً په همدې مخ کی پایته رسیږي.

که داسي نه وي او د لومړي مخ له لومړیو دوو ستونونو (کالمونو) څخه پیل شي نو پاتې برخه یې بهتره ده چې په دوهم مخ کی وي تر څو اهمیت یې وساتل شي د سرمقالي پاتې برخه څلورم مخ ته وړل د سرمقالي اهمیت کموي خو که چاره نه وي کله نا کله د ملو ور وي په غربي هیوادونو کی په زیاترو ورځپاڼو او مجلو کی د سرمقالي ځای د ټل لپاره معلوم وي یا لومړي مخ او یا هم دوهم مخ ورته ټاکل کیږي

په سرمقاله کی کله کله مخکی له دې چې کومه پیښه وشي طرحې هم وړاندې کیږي دغه طرحې د مسؤلو مقاماتو سره کیدای شي ډیره مرسته وکړي. په سرمقاله کی د فکتونو او ارقامو وړاندې کول ښه کار دی خو چې زیات نه وي څکه که لږ وي د لوستونکي ذهن کی پاتې کیږي او له بلې خوا زیات ارقام د سرمقالي اصلي هدف مغشوشوي د سرمقالي د اوږدوالي او یا لنډوالي په برخه کی کوم خاص قانون نشته خو همدا چې د نړۍ په اکثرو ورځپاڼو کی د لومړي او یا دوهم مخ لومړي دوه ستونونه ورته اختصاص ورکول کیږي کیدای شي وویل شي چې ډیره اوږده سرمقاله لوستونکو ته په زړه پورې نه وي که د سرمقالي د تورو او د نورو مطالبو د تورو تر منځ توپیر وي د سرمقالي اهمیت لا زیاتوي. کله کله داسي پیښیږي چې سرمقاله په یوه ګڼه کی چاپ نشي نو دا داسي حالات دي چې یا با اهمیته موضوع نه وي او یا دا چې د هیواد د زعامت مهم اسناد، بیانیې او یا پیغامونه په لومړي مخ کی نشر کیږي او دوهم مخ ته هم اوړي. خو قاعده دا ده چې هره ګڼه یوه سرمقاله لري. سرمقاله خاصتاً سیاسي موضوع نه وي نو په لنډه توګه ویلای شو چې سرمقاله کی راز راز او مهم اقتصادي، تاریخي... او فرهنګي مطالب لیکل کیږي.

که سرمقاله په «شکستي» تورو او یا هنري ډول تورو چاپ ته ورسیږي د سرمقالي اهمیت کموي او د لوستونکي سترګو باندې فشار راولي نو بهتره ده چې په مروجو تورو او د ورځپاڼې د نورو مطالبو په پرتله په نسبتاً غټو تورو چاپ ته ورسیږي. د سرمقالي په پای کی بیا هم باید وویل شي چې د چا نوم نه لیکل کیږي خو په یو شمیر هیوادونو کی که سرمقاله د هغه هیواد د رهبري او زعامت لخوا لیکله شوې وي نو په پای کی یې د همدې مهم مقام نوم لیکل کیږي خو مثل شوی قاعده او اصل دا دی چې د سرمقالي په پای کی نوم نه لیکل کیږي.

او په پای کی باید وویل شي چې په سرمقاله کی سیاسي اشتباه او تیروتنه د زغملو وړ نده بلکې د تادیبي سزا او یا هم د توضیحي او یا کلک انتقاد وړ ده د یادونې وړ ده چې د اسلامي امارت ډله بیزو وسایل سره لدې چې ډیر ځوان دی د سرمقالو په لیکلو کی د مسؤلینو کار ورځ تر ورځې بریالیتوبونه تر لاسه کوي.

وچکالي یا د مړینې خطر

لکه څرنگه چې ټولو ته څرگنده ده د هری ورځې په تیریدو سره د وچکالي او له هغې څخه د راپیدا شویو ستونزو او مشکلاتو له امله زموږ زیات شمیر هیوادوال له سخت ناتار سره مخامخ دي او په سلو کې څلویښت یې د له منځه تللو اټکل حتمي دي.

دا دریم کال دی چې زموږ د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د وچکالي، د اوبو د نشتوالي او د خوراکي موادو د کمښت سره زیات شمیر خلک له یو ځای څخه بل ځای ته کډه شوي او د مهاجرتونو لړی کیدای شي د لړی مودی د تیریدو سره نوره هم گړندی شي او له بله پلوه دا هم یقیني ده چې له دغه طبیعي آفت څخه نوري خوندي سیمې په خپل حال مصئوني پاتې شي. په اوس وخت کې زموږ وچکالي ځپلي هیوادوال د دغه طبیعي آفت، نویو ناروغیو او د زړو ناروغیو د بیا ژوندي کیدو او خپریدو له امله د بشپړی نا هیلي او مایوسیو په سبب بنایي له هیواده بهر ملکونو ته مخه وکړي په داسې حال کې چې زموږ گاونډي هیوادونه هم د وچکالي په اور کې سوزي او نه شي کولی د پخوا په شان زموږ

نور محمد لاهو

ناچارو افغانانو ته بنه راغلاست ووایی او د ننه په هیواد کې هم داسې امکانات نه تر سترگو کیږي چې د دغو کړاوونو د لړی کیدو په لاره کې په بشپړه توگه تری استفاده وشي. او افغانانو هم چې کومې شخصي شتمني او عایداتي سرچینې درلودې د دوه لسیزو ناورینو نو او د جگړو د دوام له امله له لاسه ورکړي او یو شمیر هغو هیوادوالو چې د کرکیلي له لاری یې خپل ژوند سمبالاوه او د دی تر څنگه یې کولی شول نور هیوادوال هم تر خپل سیوري لاندی دمه کړي د وچکالي نه د راپیدا شویو کړاوونو له امله د مړینې له گواښ سره لاس او گریوان دي

نو په دغسې حالاتو کې د افغانانو د ستونزو د لړی کیدو بنسټیزه لاره کومه ده؟

دا هغه پوښتنه ده چې که څیری د خواب په ورکولو کې یې یوه دقیقه هم ځنډ راشي نو د دغې لنډی شیبې په تیریدو سره کیدای شي د یوه وچکالي ځپلي افغان د مړینې شاهدان و اوسو.

په دی وروستیو وختو کې د ملگرو ملتو د مهاجرو اداری یو، ان اچ سی آر په افغانستان کې د اوسني وچکالي او قحطي له امله د شلو لکو کسانو د زیانمن کیدو او نورو هیوادونو ته د هجرت کولو اندیښنه ښکاره کړې ده په ژنیو کې د دغې اداری ویاند ویلي دي: که چیری د نړیوالي ورورولي په وخت اقدام ونه کړی شي نوی امکان شته چې په سلگونو کسان د مرک له خطر سره مخامخ شي ویاند زیاته کړه: تر اوسه په سلو کې څلویښت فصلونه له منځه تللي او په سلو کې پنځه د پرش څاروی مړه شوي دي.

دغه راز په شپاړسو ولایتونو کې د څه د پاسه نولس زرو څاگانو د اوبو وچیدلو هم د هجرتونو لاری چاری برابری کړی او په نورو ولایتونو کې د څاگانو اوبه له نهو مترو څخه تر پنځه ویشتو مترو پورې ښکته شوي دي لکه څرنگه چې ټولو ته جوته ده د نړیوالو خیریه او بشري ټولنو د رامنځته کیدو بنسټ د بشري ټولنو د ستونزو او تراوونو له طبیعي او غیر طبیعي پیښو سره د مبارزی او د انسانانو تر منځ د ښو اړیکو د ټینگیدو او نورو بشري او سیمه ییزو اکتونو د لری کولو له مخې اینبودل شوی دی پکار دی چې په دغسې حالاتو کې د افغانانو لاس نیوی وشي څو څرنگه چې لیدل کیږی زموږ د هیواد او خلکو په وړاندی یو شمیر خیریه او بشرپالو . ټولنو خپل تر ټولو مهم اصل یعنې ناپیلتوب له یاده ایستلی دی لومړی خو مرستي نه کوی او که یې کوی هم د گوتو په شمیر، دوی زیاتره وخت هغه کسان د اړو او مصیبت ځپلو په لست کې شاملوی چې د مخالفینو تر واکمنی لاندی سیمو کې ژوند کوی په داسې حال کې چې د طالبانو تر کنترول لاندی سیمو کې هم د هماغو کسانو ځپلوان ژوند کوی خو دوی یې په خپل لست کې نه شاملوی

په پای کې زموږ هیله او غوښتنه له نړیوالو خیریه او بشري ټولنو څخه دا ده چې خپل پښر اصول رعایت او ناپیلتوب خوندي وساتي او په داسې حال کې چې افغانې ټولنه د بیلابیلو ناتارونو تر څنگ له وچکالي نه را پیدا شویو ربړو سره مخامخ ده له پامه ونه غورځوي نړیوالي بشرپالي ټولنې باید د نړی نوری خیریه ټولنې دیته وهڅوي چې له کړاو ځپلو افغانانو سره مرستی وکړی د دوی د ستونزو او لومړنیو اړتیاوو د پوره کیدو په خاطر د عایداتي منابعو د پیدا کولو او د مرستو په لړی کې زیاتوالی راولي او زموږ هیوادوال چې په اوس وخت کې د نړی تر ټولو وگړو اړاو جگړی ځپلي او په پرهارونو یې لا پټی نه وي لگول شوي چې له طبیعي ناتار سره مخامخ شول نو په پای کې که چیری نړیوالي خیریه موسسې ځپلي مرستي ونه لوروي نو څرگنده ده چې په نړیوال ډگر کې به له خپل اعتبار او حیثیت څخه بې برخې شي.

د شمال ائتلاف

د روسانو وروستی مورچل

محمد حسن فیروزخیل

د افغانانو آزار او د توری گذار دومره سخت دی، چې هیڅنا هم تری بنه او روغه ورغ نده لیدلی ریښتیا ده هغه څوک چې الله «ج» غواړی پر بیاسی، له افغانانو سره بی کیباسی، روسانو پخپل پوچ خیال برغل وکړ، چې گواکی د هند په تودو اوبو کی به پښی وینځی، تر غابښو مسلح روسانو غربي نړی او د سیمې هیوادونه په ډیره وارخطایی، ډار او رعب کی اچولی وو، بریژنیف چې هغه مهال روسی مشر وو د برغل نه لږ وروسته یې په هند کی د انگلستان له لومړی وزیر گلاستون سره ـ ملاقات درلود، انگلیسی لومړی وزیر چې د افغان د توری شرنگ یې لا په غوږونو کی وو، بریژنف ته وویل له افغانستان څخه وتل در ته غوره دی له وژلو او رسوا ښیښتی، اوږته زیاته یې کړه هغه قوم چې خپل جنت د ټوپک په شپیلی کی گوری، هغه قوم تسلیمی او ماتی نلری، مگر روسی مشر پخپله خبره تاکید کاوه او ویل بی په دریو میاشتو کی به د دوی په اصطلاح (سمچیان) تری تم کړی، روسانو خو هغه مهال د افغان د توری شرنگ نه وو لیدلی چې دا خبری یی کولی، مگر غربي نړی د روسی مشر خبره جدی گڼله، او په دی تصور چې روسانو چې کوم ځای پښه او قدم ایښې واپس کړی بې ندی، د غربي نړی لړزیدلی لینگی هغه مهال نور هم روسانو ته معلوم شول، چې جیمی کارتر د امریکا د وخت جمهور رئیس اعلان وکړ: روسانو ته به له افغانستان او د هغه هیواد له پولو وړاندی تگ ته اجازه ورنکړو پدی معنی چې له افغانستان څخه واپس کیدل خو د شوروی اتحاد په قاموس کی نه وو، په دین او وطن مینو افغانانو په تش لاس ولی د ایمان په فولادی وسله په روسانو له غره او سمی سرتاسری برید پیل کړ، او له روسانو لاره ورکه شوه، روسانو لس کاله زموږ د ولس پر خلاف په پوره وحشت او قساوت زموږ د یو نیم ملیون څخه زیات هیوادوال په شهادت ورسول، او پدی جگړه کی روسانو یو ملیون سر تیري په مختلفو ټولگیو کی افغانستان ته راوړل او په مختلفو محاذونو کی بې له افغانانو سره وجنگول، هومره زور یې وکړ چې ملا بې ماته شوه او د شوروی اتحاد د ویروونکی امپراطوری په نسکوریدو منتج شوه نه ماتیدونکی سري لښکری بې ماتې او له هیواده وشړل شوی د نجیب حکومت د مجاهدینو د متو په زور رانسکور شو، روسان چې له دروازی ووتل له کړکی واپس را داخل شول، د جبل السراج ائتلاف بې خپل وروستی مورچل انتخاب کړ، په کابل کې د اسلامي حکومت د مخنیوی لپاره یې د کابل دروازی د مجاهدینو په مخ وتړلی، پدی پیچ خیال چې گواکی مزاحمت کوونکی به یا وټکوی او یا هم د څو بوجیو نوټونو په بدل کی به لاره د دوی پر مخ تگ ته پرانیستل شی او په څو ورځو کی به تر گلاء خان، تورخم او سپین بولدک پوری د ائتلاف د واکمنی تار وغځول شی.

د اسلام او افغانستان دښمنانو زهرجن تبلیغات پیل کړل، داسې یې ښودله چې د نجیب له نسکوریدو نه وروسته ټولی جگړی، د اقتدار د لاس ته راوړو جگړی وی، چې د جهادی ډلو تر منځ راولاړی شوی، پداسې حال کی چې قدرت له کمونستانو څخه مجاهدینو ته د یوی لحظې لپاره هم ندی انتقال شوی، او نه په کابل کی د چارو واگی مجاهدینو ته سپارل شوی، جگړه د سابق پشان د کمونیستانو تر قومندی لاندی روانه وه ارگ، د دفاع وزارت، د امنیت وزارت، رادیو تلویزیون، هوایی میدان، د ښار امنیت او امنیتی ټول کمربندونه، ټولی حاکمی او ستراتیژیکی نقطی د کمونیستانو او ملیشو په لاس کی وی، کوم مجاهدین چې کابل ته تللی وو، په حقیقت کی هغه میلمانه وو، چې د تصفیې لپاره کابل ته بلل شوی وو الحمد الله د ائتلاف هغه هیلی چې د دوی واکمنی به د هیواد گوټ، گوټ ته رسوی، په نهیلی بدلی شوی نه یوازی دا چې د کابل ښار څخه یو متر بهر ولاړ نشوای بر عکس په کابل کی پری د محاصری کړی تنگه شوه تر هغه چې الله پاک «ج» د طالبانو د اسلامي تحریک سر ښندونکی باتوران راورسول او د ائتلافی حکومت لنډ غری بې پسی واخیستل، او د کابل ښار اوسیدونکی یې د دوی له شره خلاص کړل، د اسلامي تحریک شازلمو چې د اسلامي نظام لپاره یې پلار شهید شوی، کور یې وران شوی، پخپل ابا یې ټاټوبی پریښودلو مجبوره شوی پس له هغه چې په کابل کی حکومت له کمونیستانو څخه مجاهدینو ته انتقال نشو او جگړه اوږده شوه خپل کتابونه په مدرسه او جومات کی پریښودل او ټوپک ته یې لاس کړ، الله «ج» غیرتي دی غیرتیان خوښوی دوی پخپلو مجاهدینو غیرت وکړ الله «ج» پدوی غیرت وکړ، په ډیره کمه موده کی یې ائتلافي حکومت ونړاوه او د شمالی زون په شمول د هیواد گوټ، گوټ یې د دوی له شره خلاص کړ او د خپلو هیوادوالو لپاره یې دادمن امن راوست او د طبیعي ژوند تیرولو چانس یې ور په برخه کړ اوس د هیواد ۹۰٪ خاوره د اسلامي نظام تر سیوری لاندی ده او د اسلامي نظام فیوضاتو ځپلی وزری پری غوړولی، او که خدای «ج» کول پاتې ځینی سیمې به هم خدای «ج» د اسلام په رڼا روښانی کړی او د روسانو وروستی مورچل به د تل لپاره وړبړی.

د اصحابو د ژوند پلوشي

لیکوال: دکتور عبدالرحمن رافت باشا

ژباړن: بشار

۴

کله چې د سبا له مخې د کعبی د طواف او د بتانو د تبرک د حاصلولو په غرض مسجد ته لاړم نو ما پخپلو غوږو کی پنبه کیښودله، او دا ددی لپاره چې زما غوږو ته د محمد خبری ونه رسیږی کله چې مسجد ته ور ننوتم گورم چې هغه د کعبی تر څنگه په لمانځه ولاړ دی، او زموږ د لمانځه او عبادت په خلاف لمونځ او عبادت کوی نو د هغه منظر او شان زما د خوښی سبب شو، د هغه عبادت سخت ټکان راکړ، او زما په ځان کی داسې بدلون پیدا شو چې بې ارادی هغه ته شیبه په شیبه او قدم په قدم ورنږدی کړم څو چې بیخی ښه ورنږدی شوم.

خدای وغوښتل چې د هغه له وینا څخه څه را په غوږ شي نو ما له هغه څخه ښې خبری واوریدلی او د ځان سره می وویل:

ابی طفیله! په تا دی مور بوره شی، ته یو پوه او شاعر سړی یی، او تا ته د بدو په نسبت ښه، پوره معلوم دی نو ته څله د هغه خبره نه اوری، راشه د هغه خبره واوره، که ښه وه و به یې منی، او که بده وه نو ور څخه به ځان وساتی.

طفیل وویل: بیا ما ځنډ وکړ تر څو چې حضرت پیغمبر «ص» خپل کورته ستون شو کله چې الهی پیغمبر خپل کور ته د ننه شو نو زه هم ور ننوتم او ومی ویل:

ای محمده! ستا قوم ماته ستا په باب داسې او داسې خبری کړی، په خدای سوگند، هغو تر هغه پوری ماته ستا د موضوع په باب د ویری خبری کولی چې آخرمی په پخپلو غوږو کی پنبه کیښودله څو ستا خبری وانه ورم نو بیا هماغه شو چې خدای ستا له خبرو څخه څه را په غوږ کړل او ما ستا خبری ډیری ښې بیاموندلی نو اوس خپله موضوع راته وړاندی کړه او ماته یې د الاخلاص او الفلق سورتونه ولوستل، په خدای سوگند، ما د هغه له خبری څخه بله ښه خبره وانه وریدله، او نه می د هغه له موضوع څخه بله ښه موضوع ولیدله. په دغه وخت کی ما خپل لاس ور اورد کړ او د **اشهد ان لا اله الا الله و ان محمداً رسول الله** کلمه می ولوستله، او اسلام می ومانه.

طفیل وویل: بیا زه په مکه کی تر یوه وخته پاتې شوم، او په دغه وخت کی می د اسلام احکام زده کړل او څه چې می وسه وه له قرآن څخه می یاد کړل، او کله چې می خپل قوم ته د بیرته ستنیدلو اراده وکړه نو ومی ویل:

ای د خدای رسوله! زه پخپل قوم کی منلی شخص یم، او زه هغوی ته ستنیدونکی او اسلام ته د هغو بلونکی یم نو د خدای څخه وغواړه چې ماته د باور او ملاتړی یوه نښه را په برخه کړی څو زه وکولای شم چې د هغې په وسیله هغوی اسلام ته راوبولم.

الهی پیغمبر ورته داسې دعا وکړه: «اللهم اجعل له آیة»

ای خدایه! د هغه لپاره یوه نښه ور په برخه کړه.

بیا زه خپل قوم ته ستون شوم، کله چې یو لوړ ځای ته چې ورڅرمه د هغوی کورونه ښکاره کیدل، ورسیدم نو زما د دوه سترگو تر منځه د څراغ په شان یوه رڼایی پیدا شوه، نو ما وویل «اللهم اجعله فی غیر وجهی، فانی اخشی ان یظنوا انها عقوبة و قعت فی وجهی لمفارقة دینهم ...»

ای خدایه! دغه رڼایی زما له مخ څخه په بل ځای کی کړه، ځکه زه ویریږم چې هغوی به دغه رڼایی زما په مخ کی یو عذاب وگڼی، نو هماغه شوه چې رڼایی زما د متروکی سرته نقل شوه، او خلکو دغه رڼایی زما په متروکه کی د یوه ځوړند څراغ په شان لیدله، او زه په دغه وخت کی له لوړی څخه مخ په ځوری په کوزیدلو وم. کله چې راښکته شوم نو پلار می ډیر سپین ږیری و راته راغی او ما ورته وویل: ای پلاره! له ما څخه لری شه، نه زه له تا څخه یم، او نه ته له ما څخه یې.

پلار وویل: ای زوی گوټیه! زما دین ستا دین دی (زه ستا د دین منونکی یم).

ما وویل: نو خیر ورشه، ولامبه، او پاکې جامې په تن کړه، بیا راشه څو هغه دروښیم چې هغه ماته راښودل شوی دی.

پلار لاړ، او زما په وینا سره یې ولامبل، پاکې جامې یې په ځان کړلی، او بیا راغی او ورته می اسلام وښود، او هغه اسلام ومانه. بیا زما ښځه راغله او ورته می وویل: له ما څخه لری شه، نه زه له تا څخه یم، او نه ته له ما څخه یې.

هغې وویل: د څه لپاره؟ له تا څخه دی زما مور او پلار ځار شي.

ما ورته وویل: اسلام زما او ستا په منځکی بیلتون راوستی ځکه ما اسلام منلی، او د محمد «ص» د دین تابع گرځیدلی یم.

هغې وویل: زما دین، ستا دین دی «زه ستا د دین منونکی یمه».

ما ورته وویل: نو خیر ورشه، د ذوالشری، له اوبو څخه ځان پاک کړه ذوالشری د دوس د قبیلی بت دی چې د هغه له ننا اوحرا څخه اوبه مخ په ښکته راتلی.

هغې وویل: له تا څخه دی زما مور او پلار ځار شي، راته ووایه چې آیا ته د ماشومانو په باب د ذوالشری لخوا څه ویره لری؟

ما ورته وویل: ته هم هلاکه شی او ذوالشری دی هم هلاک شی، ما تا ته وویل: ورشه، هلته له خلکو لری ولامبه، او زه ددی ضمانت کوم چې دغه ډبرین کوڼ بت تا ته څه نشی رسولای بیا هغه لاړه او ویې لامبل، او بیا ماته راغله، او ما هغې ته اسلام وښود، او هغې اسلام ومانه.

بیا ما دوس اسلام ته وبلل، ولې هغو ټولو ځنډ وکړ او یوازی ابوهریره اسلام ته غاړه کیښودله، او له ټولو خلکو څخه ړومبی د اسلام منونکی شو.

پاتې لري

نامه های وارده

به اداره محترم روزنامه وزین شریعت

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته !

در صفحه چهارم شماره ۳۲۹ مؤرخ ۱۹ ربیع الاول ۱٤۲۱ مطابق ۱۳۷۹/٤/۱ مضموني تحت عنوان « دین نصیحت است » و «قابل توجه وزارت ها ریاست هاي عمومي و تمام مسؤولین ادارات امارتي» به نشر رسیده که در آن در مورد توجه مسؤولین امور به اهتمام و انجام کار هاي مسلمین و مراجعین تذکراتي مفید و ارزشمندي ارائه شده است که یقیناً قابل توجه و در خور اهمیت میباشد.

ریاست عمومي کار و امور اجتماعي با در نظر داشت مسوولیت هاي وظیفوي خویش پروگرام وقت و رژیم کار را قبلاً به تمام ادارات امارت اسلامي افغانستان اعم از ادارات ملکي، نظامي، مکاتب، شفاخانه ها، فابریکه ها و سایر ادارات ذیربط طور متحد المال اخبار و در عین حال تطبیق و عملي شدن پروگرام کار را براي تسهیلات مراجعین و انجام به موقع امور، از شعبات ذیربط خواستار شده است. که البته مقامات و مراجع محترم ذیربط با در نظرداشت مکلفیت هاي وظیفوي خویش در تحقق بخشیدن آن بذل توجه فرموده باشند.

علاوه بر آن از چندي باینطرف هیأت موظف ریاست عمومي کار و امور اجتماعي براي بررسي مسایل حاضري، تطبیق مکلفیت ها و پابندي وظیفوي کارمندان و رعایت مقررات و قانون امارتي به اکثر وزارتخانه هاي مرکز اعزام و بکار آغاز نموده است، امید واریم که نتیجه مطلوب از آن بدست آید.

بناءً با در نظر داشت نکات فوق یکبار دیگر توجه عموم ادارات امارتي را در مورد رعایت قانون حاضري و رفع مشکلات مراجعین جلب مي نماییم . تا مسؤولیت هاي وظیفوي خویش را در این زمینه به وجه احسن و در نظر گرفتن شریعت غراي محمدي «ص» به انجام رسانند .

و من الله التوفیق

الحاج مولوي عبدالغیاث «قانع»

رئیس عمومي کار و امور اجتماعي

ریاست محترم کار و امور اجتماعي

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

اینکه نشر خبر تقید و پابندي حاضري منسوبین از طرف هفته نامه شریعت در مکتوب شماره ٤٥/٧٥ مؤرخ ۱٤۲۱/۳/۲۹ ارسالي شما تذکر مفیدو قابل اهمیت تلقي گردیده از حسن توجه و درك مسؤولیت شرعي شما یك جهان سپاسگذاریم.

اینك نامه ارسالي شما را جهت آگاهي هرچه بیشتر مسؤولین امور به دست نشر سپردیم، امید است مسوولین امور هرچه بیشتر در اجراي مسوولیت هاي خویش از جدیت و اخلاص کامل کار گرفته و مسؤلیت هاي شرعي و اخلاقي خود را درك نمایند.

اداره

به اداره محترم هفته نامه شریعت

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته !

امید است در وظایف محوله خویش موفق باشید.

محترما!

طوریکه به شما بهتر معلوم است مردم رنجدیده ما با مشکلات زیادي دست و گریبان میباشند که راه بیرون رفت از آن خیلي دشوار بنظر میرسد ولي در حقیقت امر بعضي از این مشکلات به اندك توجه مسؤولین محترم امور حل و فصل شده میتواند .

بنده که یکي از منسوبین وزارت محترم اطلاعات و کلتور میباشم مشکل خود و همه کارمندان امارتي را بشرح ذیل یاد آور مي شوم :

در اخیر ماه گذشته خبر وصول معاش ماهوار مبلغ هشتصد هزار افغاني را از نزد معتمد محترم دریافت نمودم که باعث مسرت زیاد من گردیده و بلا درنگ راهي دفتر معتمد شدم . معتمد محترم مبلغ پنجصد هزار افغاني بانکنوت هاي پنجصد افغانیگي و مبلغ سه صد هزار افغاني بانکنوت هاي ده هزار افغانیگي را برایم تادیه نمود که با خوشي زیاد پول ماحضَر را به منزل آورده و به شمارش آن آغاز نمودم متاسفانه مبلغ ۳۰ هزار افغاني در حالي در همین بسته ها کم بود که هر بسته آن با مهر بانك مزین گردیده بود. در حالیکه از کمبود ۲۰ هزار افغاني زیاد خسته خاطر بودم راهي خریداري مواد مورد ضرورت شدم به مجرد پیکش نمودن بسته هاي پنجصد افغانیگي به فروشنده، از فروش مواد معذرت خواسته برایم گفت بروید برادر در سراي شهزاده یك لك افغاني پنجصدي را به نود و چار هزار تبدیل و بعد از آن جنس را خریداري نمایید من مجبوراً بسته هاي پنجصد افغانیگي را در کیسه نموده و به محاسبه ذهني شروع نمودم که در نتیجه مبلغ سي هزار افغاني دیگر نیز خساره مند گردیدم زیرا از مجموع معاشم مبلغ پنجاه هزار افغاني کاسته شد من این مشکل را با شما در میان گذاشتم تا آنرا به گوش مسؤولین محترم امور رسانیده ما را ممنون سازید.

با احترام

فرهاد سروري کارمند وزارت اطلاعات و کلتور

از مکروریان اول

برادر محترم فرهاد سروري!

اینك نامه ارسالي شما را به نشر سپردیم خدا کند که توجه مسؤولین محترم امور را بخود جلب نموده و در راه حل مشکلات موجوده اقدام نمایند.

اداره

د اطلاعاتو او کلتور وزارت خبرتیا

د اطلاعاتو او کلتور وزارت پتیلي ده چي د خپلو اړوندو پرسونل د علمي او مسلکي سطحو د لوړولو په مقصد د نشراتي او فرهنگي کار د څرنګوالي په باب په کابل کي یو روزنیز سیمینار جور کړي. په دي وسیله د ولایتونو د اطلاعاتو او کلتور له رئیسانو او د شریعت غږ راډیو د باختر د اطلاعاتي آژانس، امارتي مطابعو ، موزیمونو او د تاریخي ابداتو له یو یو تن چارواکو څخه هیله کیږي چي د روان هجري قمري کال د ربیع الثاني د میاشتي تر دولسمي نیټي د جمعي تر ورځي پوري د اطلاعاتو او کلتور وزارت مقر ته حاضر شي. سیمینار د ۱٤۲۱ هجري قمري کال د ربیع الثاني د میاشتي په دیارلسمه نیټه د شنبي په ورځ په رسمي ډول پرانستل کیږي.

خبرتیا

درنو لوستونکو! د ډیرو محترمو ګډون کونکو له پر له پسي غوښتنو او د اطلاعاتو او کلتور وزارت د محترم مقام له حکم سره سم سر له ۱٤۲۱/٤/۷ د شریعت اوونیزي کلني ګډون په مرکز کي (٤۰۰۰۰) او په ولایاتو کي (٥۰۰۰۰) افغاني ټاکل شوي دي محترم ګډون کوونکي دي خبر وي .

د مکروریانونو د ...

کار ورمه ورځ د کابل ښه ښار کي پیل شو . په بیلا بیلو برخو کي د خلکو د مشکلاتو لري کول او د خلکو د اساسي او حیاتي ستونزو حل کول ته د ټربوالو خیریه موسسو د پاملرني جلبول د افغانستان د اسلامي امارت د چارواکو د دندو په سر کي ځای لري. په همدي مقصد د ان سی ای موسسي تیر کال د افشارو د اوبو رسولو د پروژي د ترمیمولو او بیا جوړولو بهیر چي د اوبو د کمښت له پلوه د خیرخانې مینې د خلکو مشکلات لري کوي تر لاس لاندي ونیو دغي پروژي د کار له بشپړیدو وروسته د مکروریانونو د لومړي دویم دریم او څلورم لمبر ځاګانو د بیا جوړولو کار د فواید عامي وزارت د مکروریانونو د ساتني او څارني د تصدي ریاست او د رادا موسسي په ګډه هلو ځلو سره تر لاس لاندي ونیول شو .

د رادا موسسي رئیس محترم شیر آغا بلوچ ددغي پروژي په باب وویل ددغي پروژي د سروي کار تیر کال پیل شو او د هغې له مخي د تخنیکي وسایلو او تجهیزاتو کمښت مشخص شو او س مور د عملي کار د پیل په بهیر کي لو چي دوه برخي یکی شاملي دي یوه برخه یي ددغو ځاګانو د بربیننا رسولو د شبکو فعالول او دویمه برخه یي د یکه توت د کلاي وزیر د پمپ ستیشن بیا فعالول دي. د کار د لومړي برخي په بیا جوړیدو سره د مکروریانونو د اوسیدونکو د اړتیا وړ په سلو کي او یا اوبه برابریږي او اوبه د بلاکونو تروروستي پوړ پوري شپه او ورځ جریان پیدا کوي او د پروژي د کار د دوهمي برخي په بشپړیدو سره د کلاي زمان خان د چاه ځای د کثافاتو د پمپ زمینه برابریږي. په دي بهیر کي د څلور سوه کیلو ولتو او د شپږ سوه دیرشو کیلو ولتو په ظرفیت د دوو ترانسفارمرونو درول او د دریو دولس انچو واټر پمپونو درول شامل دي چي هر یو یي په یوه ثانیه کي د څلویښتو لیترو اوبو د پمپولو ظرفیت لري.

ددغي پروژي تمویلوونکي د ان سی ای موسسه او اجرا کوونکي د رادا موسسه ده .

بعد از این مسافرین کابل ...

نخست ۱٥ عراده وسایط ترانسپورتي جدید ایرکندیشن دار را که تازه از دوبي خریداري نموده ایم بکار خواهیم انداخت.

باید اضافه داشت وسایط ترانسپورتي ما که شامل کاستر، فلنکوچ و تیز رفتار هاي کوچك مي باشد شب و روز در خدمت هموطنان مسافر ما قرار دارد؛ هکذا این پروگرام بشکل مستقیم (بدون توقف) حرکت دارد، راکبین ما در مسیر راه تورخم- پشاور صرف یکبار در زنجیر تورخم تلاشي خواهند داد، البته مراکز ما در شهر هاي کابل-پشاور تثبیت گردیده است.

محترم لطیفي اضافه داشت : ما درین پروسه براي هموطنان مسافر خویش تسهیلات لازم در نظر گرفته ایم: انتقال و عرضه ادویه جات، مواد غذایي و نوشابه هاي سرد در مسیر راه از جانب این ترانسپورت براي راکبین در صدر تسهیلات این ترانسپورت قرار دارد؛ ضمناً کرایه في نفر راکب را نظر به نوعیت وسایط تثبیت نموده ایم که پائین ترین آن دو صد هزار افغاني و بلند ترین کرایه ما سه صد هزار افغاني تثبیت گردیده است.

پروژه ماین پاکي افغانها ...

کابل به خبرنگار ما اظهار داشته چنین افزود : به اساس ارزیابي پروژه هاي ماین پاکي ملل متحد در نقاط مختلف جهان در سال ۲۰۰۰ پروژه ماین پاکي افغانها در افغانستان موفق ترین پروژه در سطح دنیا ارزیابي گردید.

در قبال این موفقیت دولت جاپان یك پایه ماشین مدرن ماین پاکي را به ارزش سه ملیون و پنجصد هزار دالر به اداره ماین پاکي افغانها طور اعانه مساعدت نمود که از طي دو روز بدینسو این ماشین کار خویش را در ولایت ننگرهار آغاز نموده است .

وي افزود : بودجه منظور شده سال ۲۰۰۰ میلادي اداره ماین پاکي افغانستان تقریباً ٦۲ ملیون دالر منظور گردیده است؛ هکذا تذکر باید داد که یك حلقه ماین در افغانستان به ارزش ۷ دالر کشت میگردد که اگر بخواهیم این ماین را دو باره خنثي نماییم خنثي شدن آن ۳۰۰ دالر مصرف بکار دارد.

شوراي عالي ستره ...

القضات و رئیس ستره محکمه روي موضوعات سیاسي و مسایل قضایي کشور صحبت همه جانبه نمودند که در بخشي از سخنان عالمانه، خویش فرمودند :

حلقه از زنجیر مساعي و فعالیت هاي شوم دشمنان تبلیغات سوء بر ضد علماء و قضات محاکم امارت اسلامي میباشد البته در باره علماء، و قضات سخن هر شخص مدار اعتبار نمي باشد، کتب فقه به خصوص معین الحکام مي نویسد که در باره قضات باید از مردم ثقه، صالح و اشخاصیکه تهمت نمي بندند و در عین حال فریب هم نمي خورند. پرسش بعمل آید، زیرا بسیاري از اشخاص مغرض در دلهاي اشخاص صالح سخناني را مي اندازند تا از این طریق دیك اشخاص نیکو و با دیانت را بدنام و منفور سازند و مي نویسد که اگر به مقامات ذي صلاح در باره قضات شکایتي مي رسید و درین مورد کدام معلومات نزد آن مقامات موجود نباشد، باید در باره پرسان کنند.

پس اگر شکایت واقعیت نداشت قضات را بوظایف شان بگذارند، و اگر شکایت به جا بود در باره اقدام نمایند.

محترم قاضي القضات ا.ا.ا علاوه نمودند : قضات محاکم باید همیشه درین کوشش باشند که همه شکایات مردم رفع شده باشد ، از آنجمله اینکه بعضي از اصحاب دعاوي شکایت مینمایند : حینیکه فیصله، محکمه برخلاف من صادر گردیده من حاضر نبودم و براي من ابلاغ نشده بود و یا میگویند که من در آن وقت قناعت نه داشته ام در حالیکه شخص موصوف در آن وقت حاضر و به فیصله قناعت هم کرده باشد پس قضات باید حین دادن پارچه ابلاغ حکم، استحضاري شخص محکوم را بگیرند و قناعت و یا عدم قناعت آنرا نیز تحریر و ثبت نمایند.

سپس روي استهدادات وزارت معادن و صنایع و محکمه مرافعه، ولایت سرپل، محکمه مرافعه ولایت لوگر و ریاست توقیف و تعقیب و ریاست اداري ستره محکمه غور همه جانبه صورت گرفت. همچنان روي درخواستهاي تبدیلي موضوعات در محاکم ولایت کابل، بلخ و فاریاب و دیگر مواد شامل اجندا بحث و بررسي دقیق بعمل آمد. در بخش هاي مختلف تصامیم لازم اتخاذ و به مراجع و محاکم مربوط ابلاغ گردید.

در مورد ترمیم شاهراه ...

هیأت عازم پاکستان گردیده است دیروزیا جنرال متقاعد محترم افتخار حسین شاه وزیر مواصلات پاکستان در مورد ایجاد همکاري متقابل در عرصه ترمیم و باز سازي سرك هاي سپین بولدك - تورغندي، تورخم - کابل و شاهراه مواصلاتي که از طریق افغانستان پاکستان را به آسیاي میانه وصل میکند بحث و تبادل نظر همه جانبه نموده و طرفین علاقمندي شانرا در این عرصه ابراز نمودند.

دماشومانو د ...

پراختیا لوی رئیس محترم ملا الله داد شهید وروو او ددغه ریاست اداري مرستیال محترم مولوی رحیم الله رحیمي او د یونیسف د اداري آمر محترم انوچه ددغه کورس د اهمیت او ارزښت په باب خبري وکړي .

د یو مسؤول خبر ځای د خبر له مخي د غه کورس د یونیسف د اداري په مالي او تخنیکي مرستي جوړ شوی دی او څلور ورځي به دوام وکړي او د کلیو د بیا جوړوني او پراختیا د لوی ریاست او د ښهرنیو موسسو او انجوګانو پنځه ویشت تنه مامورین او کار کوونکي پکی شامل دي.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

در اعلامیه وزارت امور خارجه ...

فضاي ترس و بي امنیتي را بوجود آورند.

در اعلامیه گفته شده است ا.ا.ا در حالیکه این اعمال تروریستي مخالفین را شدیداً محکوم مي نماید توجه جهانیان را بار دیگر به اعمال غیر انساني مخالفین معطوف میسازد زیرا آنان چندین بار با انجام همچو اعمال تروریستي از موازین بین المللي تخطي نموده اند به عقیده ما مخالفین را احساسات و ذهنیت منفي مردم که بر مبناي ماهیت رسوایي آنان در مقابل آنها اوج گرفته است گیج نموده است و به این منظور آنان بخاطر خرسندي کمك دهنده گان روسي خویش به انجام چنین اعمال ناپسند تروریستي دست میزنند.

وزارت امور خارجه ا.ا.ا بخاطر انفجار که در ساختمان سفارت کشور همسایه پاکستان در کابل صورت گرفت و خوشبختانه تلفات جاني در قبال نداشت در مقابل این عمل تروریستي مخالفین مراتب تاثرات عمیق خود را ابراز میدارد و به این ارتباط به تمام نماینده گي هاي دیپلوماتیك در رابطه به امنیت آنان اطمینان کامل میدهد.

از افکار سازنده ...

نمایندگي از دیگران صحبت نموده پر ده از جنایات نا بخشودني مخالفین در کشور برداشتند و به نمایندگي از دیگران آماده گي هاي عام و تام شان را در تحقق اهداف صلحجویانه امارت اسلامي در **سراسر کشور ابراز نمودند.**

اثرات سو خشکسالي...

از نقاط عصري و پر تجمع شهر کابل (کارته پروان) تحت کمبود آب آشامیدني صحي قرار گرفته است.

واضح است که درینجا نه زمین زراعتي وجود دارد و نه هم ساحات براي تربیه مواشي، اما با این همه اهالي این ساحه از بابت خشکسالي متضرر بوده و به حد اقل آب، آن هم جهت آشامیدن نیازمند میباشند.

خبرنگار ما منحیث شاهد عیني از ساحه دیدن نموده در زمینه مینویسد : فعلاً اهالي ساحه کارته پروان از بابت فقدان آب آشامیدني صحي دچار مشکلات بوده، چاه ها همه خشك ، در نل هاي منازل و کوچه ها آب جریان نداشته و بمبه هاي نصب شده موسسات خارجي نیز به قلت آب مواجه مي باشند که اکثریت این بمبه ها به بازیچه هاي اطفال مبدل شده است.

هم اکنون یك بیرل آب در کارته پروان به ۳۰۰۰۰ افغاني خرید و فروش میشود. اهالي منطقه خواهان دو باره تامین شدن جریان آب از جانب مسؤولین مربوط و موسسات خیریه غیر حکومتي به شمول ملل متحد در آن ساحه میباشند؛ زیرا ملوث شدن آبهاي غیر صحي باعث شیوع و تولید امراض میکروبي مدهش در بدن انسان میگردد .

مهربان

کار قیر ریزي ...

پایان یافته و همزمان کار قیرریزي سرك باغ اسلامي آنولایت بطول دو کیلو متر آغاز گردید.

در محفل که بهمین مناسبت تدویر یافته بود محترم ملا خیر الله خیر خواه رئیس تنظیمه زون شمال غرب و والي ولایت هرات پیرامون بر نامه هاي عام المنفعه امارت اسلامي صحبت نموده از اقدامات ریاست فواید عامه و شاروالي آن شهر ابراز خرسندي نمود.

صهیونستي غاصبو...

دي. ددغه خبر له مخي څه د پاسه دوه سوه تنو د وژل شوي فلسطیني میرمني د ښځولو په مراسمو کي ګډون وکړ او د اسرائیلي ضد شعارونو په ورکولو سره یي د اسرائیلو دښمنانه عملونه وغندل.

د علومو د اکادمي ...

کي چي د علومو اکادمي لوي رئیس محترم مولوي خلیل الله فیروزي او یو شمیر نورو چارواکو ګډون کړي و د ځیړونکي نامزد محترم نظر محمد عزیزي د خپلي هغي علمي او تحقیقي رسالي په باب چي ده د ساختمان هاي معماري و هنري تزئیني برجسته تپه شتر هده ناګاراها راي قدیم ګندهارا » تر عنوان لاندي برابره کړي وه اوړدي څرګندوني وکړي او د پوهانو پوښتنو ته یي ځواب وواېه .

کمیسیون دغه رساله او وړاندي شوي ځوابونه مثبت وبلل .

پاملرنه

درنو ګډون کوونکو!

که چیري د شریعت اوونیزه په ټاکلي وخت نه در رسیږي او یا هم هیڅ نه در رسیږي نو د معلوماتو لپاره په ٦۲۸٥۹ او ۲۱۳۸۱ شمیره تیلفوني تماس ونیسی.

SHARIAT WEEKLY

Published by :

Islamic Emirate of Afghanistan

Chief Editor: Abdurrahim Saqeb

Printed by: Emirate's Printing Press